# طه

**مکی سورة دی ۱۸۵آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

طه ﴿١﴾

**طا ه( په حقیقی معنی يې الله تعالی او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم ښه پوهيږی).**

مَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡقُرۡءَانَ لِتَشۡقَىٰٓ ﴿٢﴾

**مونږ دا قرآن تاته د دې لپاره نه دی نازل کړی چې ته ورسره په کړاو او زحمت اخته شې.**

إِلَّا تَذۡكِرَةٗ لِّمَن يَخۡشَىٰ ﴿٣﴾

**بلکه( د نزول هدف يې دادی چې له الله تعالی نه) ویریدونکی خلک ترې پند او نصیحت واخلی( او له روحانی فیوضاتو څخه يې برخمن شی).**

تَنزِيلٗا مِّمَّنۡ خَلَقَ ٱلۡأَرۡضَ وَٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلۡعُلَى ﴿٤﴾

**د هغه ذات له لوری( په تدریج) نازل شوی چې ځمکه او هسک آسمانونه يې پیدا کړيدی.**

ٱلرَّحۡمَٰنُ عَلَى ٱلۡعَرۡشِ ٱسۡتَوَىٰ ﴿٥﴾

**هغه مهربان ذات چې( پخپل ځانګړی شان او کیفیت د خلقت او کائناتو د چارو د تدبیر او سلطنت په تخت) عرش باندې تشریف فرما دی.**

لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا وَمَا تَحۡتَ ٱلثَّرَىٰ ﴿٦﴾

**د آسمانونو، ځمکو او د هغو ترمنځ او حتی د ځمکې د تل ټول موجودات او شتمنی د هغه د مالکیت او سلطنت په قلمرو کې شامل دی.**

وَإِن تَجۡهَرۡ بِٱلۡقَوۡلِ فَإِنَّهُۥ يَعۡلَمُ ٱلسِّرَّ وَأَخۡفَى ﴿٧﴾

**که ته په جهر خبرې کوې( او که په پټ او خفیف آواز يې وکړې، د الله تعالی لپاره یو شان دی ځکه) هغه له پټو نه په پټو اسرارو او ګونګوسو هم ډیر ښه پوهيږی.**

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ ﴿٨﴾

الله واحد او لاشریک ذات دی، له هغه نه غیر، بل خدای نشته. هغه د ټولو غوره نومونو څښتن دی.

وَهَلۡ أَتَىٰكَ حَدِيثُ مُوسَىٰٓ ٩

(ای پیغمبره!) آیا د موسی کیسه درته معلومه ده؟

إِذۡ رَءَا نَارٗا فَقَالَ لِأَهۡلِهِ ٱمۡكُثُوٓاْ إِنِّيٓ ءَانَسۡتُ نَارٗا لَّعَلِّيٓ ءَاتِيكُم مِّنۡهَا
بِقَبَسٍ أَوۡ أَجِدُ عَلَى ٱلنَّارِ هُدٗى ١٠

کله چې یې( له مدین نه مصر ته د تګ په لاره کې له لیرې فاصلې) اور ولید، نو خپلې کورنۍ ته یې وویل: لږ تم شئ، ما اور ولید، یا به درته( د تودوښې لپاره) لمبه راوړم او (یا به د لارې د پیدا کولو لپاره) کوم لارښود پیدا کړم.

فَلَمَّآ أَتَىٰهَا نُودِيَ يَٰمُوسَىٰٓ ١١

کله چې د اور خواته ورغی، غږ ورباندې وشو: ای موسی!

إِنِّيٓ أَنَا۠ رَبُّكَ فَٱخۡلَعۡ نَعۡلَيۡكَ إِنَّكَ بِٱلۡوَادِ ٱلۡمُقَدَّسِ طُوٗى ١٢

بیشکه چې زه ستا رب یم، پڼې دې وباسه ځکه ته د طوی په مقدسه دره کې ولاړ یې.

وَأَنَا ٱخۡتَرۡتُكَ فَٱسۡتَمِعۡ لِمَا يُوحَىٰٓ ١٣

او ته مې( د پیغمبرۍ د مقام لپاره) غوره کړی یې نو څه چې درته وحې کیږي، په غور یې واوره.

إِنَّنِيٓ أَنَا ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدۡنِي وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكۡرِيٓ ١٤

بیشکه چې زه الله یم، له ما نه غیر بل خدای نشته نو زما عبادت وکړه او زما د یادښت لپاره لمونځ وکړه.

إِنَّ ٱلسَّاعَةَ ءَاتِيَةٌ أَكَادُ أُخۡفِيهَا لِتُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا تَسۡعَىٰ ١٥

د قیامت راتګ چې نیټه یې پټه ساتم یو واقعیت دی، ترڅو هر چاته د هغه د کوښښونو( او اعمالو) بدله ورکړی شي.

فَلَا يَصُدَّنَّكَ عَنۡهَا مَن لَّا يُؤۡمِنُ بِهَا وَٱتَّبَعَ هَوَىٰهُ فَتَرۡدَىٰ ١٦

نو هغه څوک چې د خپلو نفسي خواهشاتو پیروي کوي او د قیامت په راتګ ایمان نه لري، باید تا( د قیامت له فکره) بې پروا، نه کړي که نه هلاک به شې.

وَمَا تِلۡكَ بِيَمِينِكَ يَٰمُوسَىٰ ١٧

او ای موسی! په دغه ښی لاس کې دی څه دی؟

قَالَ هِيَ عَصَايَ أَتَوَكَّؤُاْ عَلَيۡهَا وَأَهُشُّ بِهَا عَلَىٰ غَنَمِي وَلِيَ فِيهَا

مَـَٔارِبُ أُخۡرَىٰ ١٨

هغه وویل: دا زما امسا ده چې ډېره ورته وهم، د پسونو لپاره مې د ونو پاڼې پرې راڅنډم او نور ضرورتونه مې هم وربانديې پوره کوم.

قَالَ أَلۡقِهَا يَٰمُوسَىٰ ١٩

(الله تعالی) وفرمایل: ای موسی!( امسا دې) وغورځوه.

فَأَلۡقَىٰهَا فَإِذَا هِيَ حَيَّةٞ تَسۡعَىٰ ٢٠

امسا یې وغورځوله چې سمدلاسه ترې لوی ځغلیدونکی مار جوړشو.

قَالَ خُذۡهَا وَلَا تَخَفۡۖ سَنُعِيدُهَا سِيرَتَهَا ٱلۡأُولَىٰ ٢١

(الله تعالی) وفرمایل: را ویې نیسه او مه ویرېږه، بیرته به یې درته په هماغه لومړی شکل بدله کړو.

وَٱضۡمُمۡ يَدَكَ إِلَىٰ جَنَاحِكَ تَخۡرُجۡ بَيۡضَآءَ مِنۡ غَيۡرِ سُوٓءٍ ءَايَةً أُخۡرَىٰ ٢٢

او لاس دې تخرګ ته ورننه کړه، بې له عیبه( او مرضه) به یې سپین او ځلیدونکی راوباسې، دغه درته بله نښه ده.

لِنُرِيَكَ مِنۡ ءَايَٰتِنَا ٱلۡكُبۡرَى ٢٣

ترڅو تاته خپلې ځینې لویې معجزې څرګندې کړو.

ٱذۡهَبۡ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ٢٤

ورشه فرعون ته( چې د الله تعالی په وړاندې یې) د سرکشی او بغاوت اعلان کړی دی.

قَالَ رَبِّ ٱشۡرَحۡ لِي صَدۡرِي ٢٥

(موسی) وویل: ای ربه!( د دغه ستر مسئولیت د سرته رسولو لپاره) مې سینه پراخه کړه.

وَيَسِّرۡ لِيٓ أَمۡرِي ﴿٢٦﴾

او په چاره کې مې راته آسانتيا برابره کړه.

وَٱحۡلُلۡ عُقۡدَةٗ مِّن لِّسَانِي ﴿٢٧﴾

او د ژبې غوټه مې وسپړه ( چې زما د فصاحت او بلاغت مخه يې نيولې ده).

يَفۡقَهُواْ قَوۡلِي ﴿٢٨﴾

ترڅو مې(مخاطبين) زما په خبرو پوه شی.

وَٱجۡعَل لِّي وَزِيرٗا مِّنۡ أَهۡلِي ﴿٢٩﴾

او زما د کورنۍ يو غړی زما مرستيال وټاکه.

هَٰرُونَ أَخِي ﴿٣٠﴾

چې هارون- زما ورور دی.

ٱشۡدُدۡ بِهِۦٓ أَزۡرِي ﴿٣١﴾

زما مټ ورباندې پياوړی کړه.

وَأَشۡرِكۡهُ فِيٓ أَمۡرِي ﴿٣٢﴾

او زما په وظايفو کې يې راسره شريک کړه.

كَيۡ نُسَبِّحَكَ كَثِيرٗا ﴿٣٣﴾

تر څو دواړه ستا پاکی او تسبيح بيان کړو.

وَنَذۡكُرَكَ كَثِيرًا ﴿٣٤﴾

او په کثرت سره ستا ذکر وکړو.

إِنَّكَ كُنتَ بِنَا بَصِيرٗا ﴿٣٥﴾

بيشکه چې ته زمونږ په حال تر ټولو ښه ليدونکی او څارونکی يې.

قَالَ قَدۡ أُوتِيتَ سُؤۡلَكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿٣٦﴾

الله تعالی وفرمايل: ای موسی ټولې غوښتنې دې منظور دی.

وَلَقَدۡ مَنَنَّا عَلَيۡكَ مَرَّةً أُخۡرَىٰٓ ﴿٣٧﴾

او بیشکه مونږ پخوا هم په تا احسان کړی دی.
(کله چې ته وزیږیدې مور دې سخته په ویره کې وه چې که د فرعونی حکومت چاراوکی خبر شی زوی به مې ووژنی او مونږ ته به هم سزا راکړی).

إِذۡ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ أُمِّكَ مَا يُوحَىٰٓ ﴿٣٨﴾

( نو مونږ ) ستا مور ته الهام وکړ چې:

أَنِ ٱقۡذِفِيهِ فِي ٱلتَّابُوتِ فَٱقۡذِفِيهِ فِي ٱلۡيَمِّ فَلۡيُلۡقِهِ ٱلۡيَمُّ بِٱلسَّاحِلِ يَأۡخُذۡهُ عَدُوّٞ
لِّي وَعَدُوّٞ لَّهُۥۚ وَأَلۡقَيۡتُ عَلَيۡكَ مَحَبَّةٗ مِّنِّي وَلِتُصۡنَعَ عَلَىٰ عَيۡنِيٓ ﴿٣٩﴾

( ماشوم زوی دې) په یوه صندوق کې واچوه او صندوق سیند ته وغورزوه چې( د فرعون په ماڼۍ کی یې) څنډې ته وباسی او زما او د ده ګډ دښمن یې را اوچت کړی. او( ای موسی !دغه راز) مې په تا باندې د عامه محبوبیت پیرزوینه وکړه( چې د ټولنې هر وګړی درسره مینه کوله) او دا هر څه د دې لپاره وو، چې ته باید زما د پوره څارنې لاندې لوی او وپالل شې.

إِذۡ تَمۡشِيٓ أُخۡتُكَ فَتَقُولُ هَلۡ أَدُلُّكُمۡ عَلَىٰ مَن يَكۡفُلُهُۥۖ فَرَجَعۡنَٰكَ إِلَىٰٓ
أُمِّكَ كَيۡ تَقَرَّ عَيۡنُهَا وَلَا تَحۡزَنَۚ وَقَتَلۡتَ نَفۡسٗا فَنَجَّيۡنَٰكَ مِنَ ٱلۡغَمِّ وَفَتَنَّٰكَ
فُتُونٗاۚ فَلَبِثۡتَ سِنِينَ فِيٓ أَهۡلِ مَدۡيَنَ ثُمَّ جِئۡتَ عَلَىٰ قَدَرٖ يَٰمُوسَىٰ ﴿٤٠﴾

(هغه هم د یادولو ده چې) خور دې( د فرعون ماڼۍ ته) ورغله او ورته یې وویل: داسې څوک به در وښایم چې د دې ماشوم ښه پالنه به کوی. او په دې توګه مو، ته بیرته د خپلې مور غیږې ته ستون کړې تر څو د هغې ناکراره زړه آرام او اندیښنه یې په خوشحالی بدله شی. بیا دې له فرعونیانو څخه یو تن وواژه، خو مونږ له هغه کړاو او جنجال نه هم وژغورلې. او وروسته مو د زیاتو ازمیښتونو له بټیو راوویستې، تر دې چې کلونه کلونه په مدین کې هم پاتې شوې، نو ای موسی دا دی اوس د الهی تقدیر له مخې( په ټاکلې نیټه د پیغمبرۍ مقام ته د رسیدو لپاره) دلته راغلی یې.

وَٱصۡطَنَعۡتُكَ لِنَفۡسِي ﴿٤١﴾

او ته مو( د خپلو اهدافو د تطبیق لپاره) جوړ او غوره کړی یې.

ٱذۡهَبۡ أَنتَ وَأَخُوكَ بِـَٔايَٰتِي وَلَا تَنِيَا فِي ذِكۡرِي ٤٢

( اوس نو) ته او ورور دې زما له معجزو سره لاړ شئ او زما په ذکر( د وحې په ابلاغ کې) ناراستی مه کوئ.

ٱذۡهَبَآ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ إِنَّهُۥ طَغَىٰ ٤٣

دواړه (ورونه) فرعون ته ورشئ چې( د الله له احکامو) یې بغاوت اعلان کړی دی.

فَقُولَا لَهُۥ قَوۡلٗا لَّيِّنٗا لَّعَلَّهُۥ يَتَذَكَّرُ أَوۡ يَخۡشَىٰ ٤٤

نو له هغه سره نرمې خبرې وکړئ، امید دی چې هوښیار شي( او د حق قانون ته غاړه کیږدي) یا ووېرېږي (او له سرکشی نه لاس واخلی).

قَالَا رَبَّنَآ إِنَّنَا نَخَافُ أَن يَفۡرُطَ عَلَيۡنَآ أَوۡ أَن يَطۡغَىٰ ٤٥

دواړو وویل: ای زمونږ ربه،مونږ ویرېږو هسې نه چې( حق ته له دعوت نه وړاندې) په مونږ تیری وکړی او سرکشی یې  لا نوره هم زیاته شی.

قَالَ لَا تَخَافَآۖ إِنَّنِي مَعَكُمَآ أَسۡمَعُ وَأَرَىٰ ٤٦

الله تعالی وفرمایل: مه ویرېږئ، بیشکه چې زه ستاسو سره یم( ستاسو او هغه ترمنځ خبرې) اورم او ټول ( جریان ) مو څارم.

فَأۡتِيَاهُ فَقُولَآ إِنَّا رَسُولَا رَبِّكَ فَأَرۡسِلۡ مَعَنَا بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَلَا تُعَذِّبۡهُمۡۖ
قَدۡ جِئۡنَٰكَ بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّكَۖ وَٱلسَّلَٰمُ عَلَىٰ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلۡهُدَىٰٓ ٤٧

( نو په پوره ډاډ  او بې له ویرې ترهې ) فرعون ته ورشئ او ورته ووایئ: مونږ دواړه ستا د رب له لوری تاته رالیږل شوی یو، نو بنی اسرائیل( له غلامۍ نه آزاد) او اجازه ورکړه چې زمونږ سره لاړ شی او زجر او تکلیف مه ورکوه. مونږ ستا د رب له لوری له معجزې سره راغلی یو او سلامتی دې وی په هغه چا، چې د هدایت لاره خپله کړی.

إِنَّا قَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡنَآ أَنَّ ٱلۡعَذَابَ عَلَىٰ مَن كَذَّبَ وَتَوَلَّىٰ ٤٨

بیشکه مونږ ته وحې شوې چې عذاب د هغه چا په برخه دی چې( الهی آیتونه او رسولان) دروغ وګڼی او مخ ترې واړوی.

قَالَ فَمَن رَّبُّكُمَا يَٰمُوسَىٰ ٤٩

(فرعون) وویل: ای موسی ستاسو رب څوک دی؟

قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِىٓ أَعْطَىٰ كُلَّ شَىْءٍ خَلْقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ﴿٥٠﴾

(موسی) وویل: زمونږ رب هغه ذات دی چې هر شی ته یې( د هغه له استعداد او کمال سره سم) مناسب
جوړښت ورکړی او بیا یې ورته لاره ښودلې ده.

قَالَ فَمَا بَالُ ٱلْقُرُونِ ٱلْأُولَىٰ ﴿٥١﴾

فرعون( د خدای پیژندنې موضوع بدله او) پوښتنه یې وکړه چې د پخوانیو امتونو حال څنګه و؟

قَالَ عِلْمُهَا عِندَ رَبِّى فِى كِتَٰبٍ ۖ لَّا يَضِلُّ رَبِّى وَلَا يَنسَى ﴿٥٢﴾

(موسی) وویل: د هغوی( د ژوند معلومات) زما د رب په کتاب( لوح محفوظ کې) ثبت دی، او زما رب( خلکو
ته په مکافات او مجازات ورکولو کې) نه تیروځی او نه یې څه هیریږی.

ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ مَهْدًا وَسَلَكَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا وَأَنزَلَ مِنَ
ٱلسَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦٓ أَزْوَٰجًا مِّن نَّبَاتٍ شَتَّىٰ ﴿٥٣﴾

هغه ذات چې ځمکه یې ستاسو لپاره لکه بستر غوړولې او ستاسو( د تګ راتګ د آسانولو) لپاره یې پکې لارې
جوړې کړی، او له آسمانه یې اوبه راورولی چې د هغو په وسیله مو ډول ډول بوټی او نباتات راوټوکول.

كُلُوا۟ وَٱرْعَوْا۟ أَنْعَٰمَكُمْ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِى ٱلنُّهَىٰ ﴿٥٤﴾

( پخپله هم له دغو نعمتونو څخه) وخورئ او خپل څاروی پرې هم وڅروی. بیشکه چې په دغو چارو کې،د
پوهې د خاوندانو لپاره، د الله تعالی( د توحید، ربوبیت او قدرت) ښې نښې پرتې دی.

۞ مِنْهَا خَلَقْنَٰكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَىٰ ﴿٥٥﴾

تاسو مو له ځمکې پیدا کړی یاست، او بیرته هم ځمکې ته ورځئ او بیا به مو هم له ځمکې راوباسو.

وَلَقَدْ أَرَيْنَٰهُ ءَايَٰتِنَا كُلَّهَا فَكَذَّبَ وَأَبَىٰ ﴿٥٦﴾

بیشکه چې مونږ( د خپل قدرت) ټول معجزات فرعون ته ورو‌ښودل خو هغه دروغ وګڼل او حق منلو ته یې غاړه
کینښوده.

قَالَ أَجِئْتَنَا لِتُخْرِجَنَا مِنْ أَرْضِنَا بِسِحْرِكَ يَٰمُوسَىٰ ﴿٥٧﴾

ویې ویل: ای موسی ته د دې لپاره راغلی یې چې په خپل سحر او ټوټکو، مونږ له خپل هیواده وباسې( او د قبطیانو په ځمکو او شتمنیو قابض شې)؟

فَلَنَأۡتِيَنَّكَ بِسِحۡرٖ مِّثۡلِهِۦ فَٱجۡعَلۡ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكَ مَوۡعِدٗا لَّا نُخۡلِفُهُۥ نَحۡنُ وَلَآ أَنتَ مَكَانٗا سُوٗى ﴿٥٨﴾

نو مونږ به هم همدغه ډول جادو تاته راوړو، خو ته په یوه پراخ میدان کې داسې وخت وټاکه چې نه ته، له خپلې وعدې واوړې او نه مونږ.

قَالَ مَوۡعِدُكُمۡ يَوۡمُ ٱلزِّينَةِ وَأَن يُحۡشَرَ ٱلنَّاسُ ضُحٗى ﴿٥٩﴾

(موسی) وویل: نیټه به د عمومي جشن ورځ وی چې عام خلک ورته څاښت مهال راټولیږی.

فَتَوَلَّىٰ فِرۡعَوۡنُ فَجَمَعَ كَيۡدَهُۥ ثُمَّ أَتَىٰ ﴿٦٠﴾

نو فرعون( د مناظرې له غونډې) راوګرځید( د خپلو کوډګرانو د راټولولو لپاره یې) ترتیبات ونیول او بیا( له هغوی سره یو ځای) ټاکلی میدان ته حاضر شو.

قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ وَيۡلَكُمۡ لَا تَفۡتَرُواْ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا فَيُسۡحِتَكُم بِعَذَابٖۖ وَقَدۡ خَابَ مَنِ ٱفۡتَرَىٰ ﴿٦١﴾

موسی ساحرانو ته وویل: ای اجل نیولیو، په الله تعالی د دروغو تومت مه تړئ( او الهی معجزاتو ته د سحر او جادو نوم، مه ورکوئ) که نه په سخت عذاب به اخته شئ. محروم او نامراده دی هغه څوک، چې په الله تعالی د دروغو تومت تړی.

فَتَنَٰزَعُوٓاْ أَمۡرَهُم بَيۡنَهُمۡ وَأَسَرُّواْ ٱلنَّجۡوَىٰ ﴿٦٢﴾

( د موسی علیه السلام د نصیحت او اخطار له امله د ساحرانو په جرګه کې سخته ویره او ترهه پریوته) او په خپلمنځی مناقشو او ناندریو اخته شول.

قَالُوٓاْ إِنۡ هَٰذَٰنِ لَسَٰحِرَٰنِ يُرِيدَانِ أَن يُخۡرِجَاكُم مِّنۡ أَرۡضِكُم بِسِحۡرِهِمَا وَيَذۡهَبَا بِطَرِيقَتِكُمُ ٱلۡمُثۡلَىٰ ٦٣

**( خو بالاخره یې د فرعون امر ته غاړه کیښوده او) ویې ویل چې دا دواړه( ورونه) کودګران دی او غواړي پخپلو ساحرانه نمایشاتو سره، تاسو له خپل کورکلي بې ځایه کړي او ستاسو غوره دین او قانون له منځه یوسي.**

فَأَجۡمِعُواْ كَيۡدَكُمۡ ثُمَّ ٱئۡتُواْ صَفّٗاۚ وَقَدۡ أَفۡلَحَ ٱلۡيَوۡمَ مَنِ ٱسۡتَعۡلَىٰ ٦٤

**نو خپل ټول تدابیر او پلانونه منظم او راټول کړئ او په یو متحد صف کې راوړاندې شئ. نن به سرلوړی هغه وی چې میدان وګټي.**

قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِمَّآ أَن تُلۡقِيَ وَإِمَّآ أَن نَّكُونَ أَوَّلَ مَنۡ أَلۡقَىٰ ٦٥

**( جادوګرانو) وویل: ای موسی ته (خپله امسا میدان ته) راغورزوې او که مونږ( ته اجازه راکوې چې خپل د جادوګرۍ ابزار او مهارتونه) نمایش ته وړاندې کړو؟**

قَالَ بَلۡ أَلۡقُواْۖ فَإِذَا حِبَالُهُمۡ وَعِصِيُّهُمۡ يُخَيَّلُ إِلَيۡهِ مِن سِحۡرِهِمۡ أَنَّهَا تَسۡعَىٰ ٦٦

**( موسی) وویل: بلکه تاسو لومړی شئ. او ناڅاپه د جادوګرانو رسۍ او لکړې د ساحرانه شعبدو په زور لیدونکو ته  د ځغلیدونکو( مارانو) په شان وځلیدې.**

فَأَوۡجَسَ فِي نَفۡسِهِۦ خِيفَةٗ مُّوسَىٰ ٦٧

**نو د موسی زړه ( د بشرۍ فطرت په اساس) ویرې واخست( چې کیدی شی میدان وبایلي).**

قُلۡنَا لَا تَخَفۡ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡأَعۡلَىٰ ٦٨

**خو مونږ ورته وویل: مه ویریږه( او وسوسې زړه ته مه غورځوه) بیشکه چې ته برلاسی یې.**

وَأَلْقِ مَا فِى يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوٓا۟ ۖ إِنَّمَا صَنَعُوا۟ كَيْدُ سَـٰحِرٍ ۖ وَلَا يُفْلِحُ
ٱلسَّاحِرُ حَيْثُ أَتَىٰ ﴿٦٩﴾

څه چې دې په ښۍ لاس کې دی وروغورزوه، د هغوی ټول مصنوعی شیان به له کومی تیر کړی، ځکه دغه هرڅه د کوډګرانو چلوټې دی او کوډګران هیڅیرې او (هیڅکله) د کامیابۍ او برلاسۍ مخ نشی لیدی.

فَأُلْقِىَ ٱلسَّحَرَةُ سُجَّدًا قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِرَبِّ هَـٰرُونَ وَمُوسَىٰ ﴿٧٠﴾

( د موسی امسا میدان ته له غورځیدو سره سم په ښامار بدله شوه چې د جادوګرانو ټول وسایل او ابزار یې یو په بل پسې له خپل کومی تیر کړل، او د دغې سترې الهی معجزې په لیدلو سره) ټول ساحران په سجدو پریوتل او اعلان یې وکړ چې ایمان مو راوړی د هارون او موسی په رب(الله تعالی). ( له ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چې ساحران اویا تنه وو، چې له سجدو سره سم یې هر یو خپل خپل مقام په جنت کې ولید).

قَالَ ءَامَنتُمْ لَهُۥ قَبْلَ أَنْ ءَاذَنَ لَكُمْ ۖ إِنَّهُۥ لَكَبِيرُكُمُ ٱلَّذِى عَلَّمَكُمُ ٱلسِّحْرَ ۖ
فَلَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَـٰفٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ فِى جُذُوعِ
ٱلنَّخْلِ وَلَتَعْلَمُنَّ أَيُّنَآ أَشَدُّ عَذَابًا وَأَبْقَىٰ ﴿٧١﴾

فرعون وویل: زما له اجازې وړاندې مو په( موسی)ایمان راوړ، بیشکه چې هغه ستاسو مشر ساحر دی چې تاسو ته یې کوډې در زده کړی دی. نو لاسونه او پښې به مو چپ او راست پرې کړم او د خرما له ونو به مو راوځړوم، او پوه به شئ چې زمونږ د کوم یو عذاب سخت او دوامداره دی( زما که د موسی د رب؟)

قَالُوا۟ لَن نُّؤْثِرَكَ عَلَىٰ مَا جَآءَنَا مِنَ ٱلْبَيِّنَـٰتِ وَٱلَّذِى فَطَرَنَا ۖ فَٱقْضِ مَآ
أَنتَ قَاضٍ ۖ إِنَّمَا تَقْضِى هَـٰذِهِ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَآ ﴿٧٢﴾

ساحرانو وویل: مونږ به هیڅکله په هغو روښانه دلایلو او معجزاتو چې مونږ ته راغلی، او هغه ذات( الله تعالی) چې مونږ یې پیدا کړی یو، تاته ترجیح در نه کړو، نو وکړه څه چې دې له وسه پوره وی.( ستا د ظلم او عذاب ټولې شکنجې) به یوازې په دې دنیا پورې منحصرې وی( او مونږ د آخرت تلپاتې نیکمرغی غوره کړې ده).

إِنَّآ ءَامَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغۡفِرَ لَنَا خَطَٰيَٰنَا وَمَآ أَكۡرَهۡتَنَا عَلَيۡهِ مِنَ ٱلسِّحۡرِۗ وَٱللَّهُ خَيۡرٞ

وَأَبۡقَىٰٓ ﴿٧٣﴾

مونږ( له دې ټينګ باور سره) په خپل رب ايمان راوړی چې زمونږ د ګناهونو په تيره بيا د هغه جادو ښښنه راته وکړی چې تا ورباندې مجبور کړی يو، او الله تعالی تر ټولو غوره او تل پاتې دايمی ذات دی.

إِنَّهُۥ مَن يَأۡتِ رَبَّهُۥ مُجۡرِمٗا فَإِنَّ لَهُۥ جَهَنَّمَ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحۡيَىٰ ﴿٧٤﴾

بې شکه څوک چې د مجرم په حيث د خپل رب  په محکمه کې ودريږی، دوزخ يې په برخه دی چې نه به پکې مری او نه به ژوندی پاتې کيږی.

وَمَن يَأۡتِهِۦ مُؤۡمِنٗا قَدۡ عَمِلَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ فَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلدَّرَجَٰتُ

ٱلۡعُلَىٰ ﴿٧٥﴾

او څوک چې  د مؤمن په حيث( الله تعالی ته)ورشی او نيک عملونه يې کړی وی نو د لوړو درجاتو مستحق به وی.

جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ مَن

تَزَكَّىٰ ﴿٧٦﴾

په هغو تلپاتې جنتونو کې به تل تر تله هستوګن وی چې ( د الهی نعمتونو) ويالې پکې روانې دی. دا مکافات د هغه چا لپاره دی چې ځانونه يې( په ايمان او صالحو اعمالو) سپيڅلی کړی دی.

وَلَقَدۡ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنۡ أَسۡرِ بِعِبَادِي فَٱضۡرِبۡ لَهُمۡ طَرِيقٗا فِي

ٱلۡبَحۡرِ يَبَسٗا لَّا تَخَٰفُ دَرَكٗا وَلَا تَخۡشَىٰ ﴿٧٧﴾

او موسی ته مو وحې وکړه چې زما بندګان د شپې(له مصرنه)وباسه او په درياب کې ورته وچه لاره برابره کړه، مه له نيول کيدو ډاريږئ او مه له ډوبيدو.

فَأَتۡبَعَهُمۡ فِرۡعَوۡنُ بِجُنُودِهِۦ فَغَشِيَهُم مِّنَ ٱلۡيَمِّ مَا غَشِيَهُمۡ ﴿٧٨﴾

**نو فرعون او لښکر یې سمدلاسه په هغوی پسې ووتل خو د دریاب اوبو تریې خپله قهری غېږه راچاپیره او تینګ یې ونیول.**

وَأَضَلَّ فِرۡعَوۡنُ قَوۡمَهُۥ وَمَا هَدَىٰ ٧٩

**او فرعون خپل قوم بې لارې کړ او سمه لار یې نه وه ورښودلې( بلکه د« ما اهدیکم الا سبیل الرشاد» ادعا یې کاملاً دروغ وه).**

يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ قَدۡ أَنجَيۡنَٰكُم مِّنۡ عَدُوِّكُمۡ وَوَٰعَدۡنَٰكُمۡ جَانِبَ ٱلطُّورِ ٱلۡأَيۡمَنَ
وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَنَّ وَٱلسَّلۡوَىٰ ٨٠

**ای بنی اسرائیلو!( د خپل رب احسان او نعمتونه دریاد کړئ چې:) تاسو ته مو له دښمنانو نجات درکړ او ستاسو سره مو( د موسی په وسیله) د طور په ښی اړخ کې وعده وکړه او هم مو درته د من او سلوی( خوندور خوراکونه) راښکته کړل.**

كُلُواْ مِن طَيِّبَٰتِ مَا رَزَقۡنَٰكُمۡ وَلَا تَطۡغَوۡاْ فِيهِ فَيَحِلَّ عَلَيۡكُمۡ غَضَبِيۖ
وَمَن يَحۡلِلۡ عَلَيۡهِ غَضَبِي فَقَدۡ هَوَىٰ ٨١

**(او درته مې وویل:) زمونږ درکړی شوی پاکه روزی وخورئ خو افراط (اسراف، بخل او ناشکری) پکې مه کوئ، که نه زما په عذاب به اخته شئ، او څوک چې زما په عذاب اخته شوی نو په حقیقت کې په سخته ګمراهۍ کې پریوتی دی.**

وَإِنِّي لَغَفَّارٞ لِّمَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا ثُمَّ ٱهۡتَدَىٰ ٨٢

**او ښښنه او مغفرت مې په هغه چا لورېږی چې توبه وباسی او ایمان راوړی او نیک عملونه وکړی او بیا د هدایت په مستقیمه لاره ثابت قدم پاتې شی.**

۞ وَمَآ أَعۡجَلَكَ عَن قَوۡمِكَ يَٰمُوسَىٰ ٨٣

**( موسی علیه السلام له وعدې سره سم په ډیره مینه او شوق له قومی مشرانو نه وړاندې طور ته ورسید، الله تعالی ورته وفرمایل:) ای موسی ولې له خپل قوم نه وړاندې په تلوار راغلې؟**

قَالَ هُمۡ أُوْلَآءِ عَلَىٰٓ أَثَرِي وَعَجِلۡتُ إِلَيۡكَ رَبِّ لِتَرۡضَىٰ ٨٤

**( موسی) ووېل:( ای زما ربه!) هغوی هم زما تر شا راروان دی خو زه ستا د خوښۍ لپاره په بیړه راغلم.**

قَالَ فَإِنَّا قَدْ فَتَنَّا قَوْمَكَ مِنْ بَعْدِكَ وَأَضَلَّهُمُ ٱلسَّامِرِيُّ ﴿٨٥﴾

( الله تعالی) وفرمایل: مونږ ستا له راتلو نه وروسته، ستا قوم له ازمیښت سره مخ کړ، او سامری هغوی بې لارې کړل.

فَرَجَعَ مُوسَىٰٓ إِلَىٰ قَوْمِهِۦ غَضْبَٰنَ أَسِفًاۚ قَالَ يَٰقَوْمِ أَلَمْ يَعِدْكُمْ رَبُّكُمْ وَعْدًا حَسَنًاۚ أَفَطَالَ عَلَيْكُمُ ٱلْعَهْدُ أَمْ أَرَدتُّمْ أَن يَحِلَّ عَلَيْكُمْ غَضَبٌ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَخْلَفْتُم مَّوْعِدِى ﴿٨٦﴾

نو موسی د سختې غصې او غم په حال کې بیرته خپل قوم ته ستون شو او ورته یې وویل: ای قومه! ستاسو رب( د تورات د نزول لپاره) ستاسو سره نیکه وعده نه وه کړې؟ آیا د دغې وعدې وخت درباندې اوږد شو، او که دا مو غوښتل چې زما له وعدې نه مخ واړوئ او د خپل رب قهر او عذاب درباندې راپریوزی؟

قَالُوا۟ مَآ أَخْلَفْنَا مَوْعِدَكَ بِمَلْكِنَا وَلَٰكِنَّا حُمِّلْنَآ أَوْزَارًا مِّن زِينَةِ ٱلْقَوْمِ فَقَذَفْنَٰهَا فَكَذَٰلِكَ أَلْقَى ٱلسَّامِرِيُّ ﴿٨٧﴾

هغوی وویل: مونږ پخپله خوښه ستا د وعدې مخالفت نه دی کړی بلکه(سامری تیرویستو، او راته یې وویل چې د قبطیانو) د قوم د ګاڼو ساتل ستاسو لپاره ګناه ده( نو مونږ د هغه په مشوره ټولې ګاڼې د خوندې ساتلو لپاره اور ته) وغورزولې او سامری(هم چې څه ګاڼې ورسره وې) وروغورزولې.

فَأَخْرَجَ لَهُمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهُۥ خُوَارٌ فَقَالُوا۟ هَٰذَآ إِلَٰهُكُمْ وَإِلَٰهُ مُوسَىٰ فَنَسِىَ ﴿٨٨﴾

( خو وروسته یې دغه ګاڼې په اور کې ویلې کړې او) د هغوی لپاره یې ترې د خوسکی مجسمه جوړه کړه چې رمباړه به ترې هم راپورته کیده. بیا( سامری او پیروانو یې) وویل چې دا د موسی حقیقی خدای دی چې موسی هیر کړی( او اوس یې د پیدا کولو لپاره طور ته تللی دی).

أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ قَوْلًا وَلَا يَمْلِكُ لَهُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا ﴿٨٩﴾

آیا دوی نه وینی( او درک ورسره نشته) چې خوسکی خو د دوی هیڅ غوښتنې ته ځواب نه وایی، نه ورنه د کوم ضرر مخه نیسی او نه ورته کومه ګټه رسولی شی.

وَلَقَدْ قَالَ لَهُمْ هَٰرُونُ مِن قَبْلُ يَٰقَوْمِ إِنَّمَا فُتِنتُم بِهِۦ ۖ وَإِنَّ رَبَّكُمُ ٱلرَّحْمَٰنُ فَٱتَّبِعُونِى وَأَطِيعُوٓا۟ أَمْرِى ﴿٩٠﴾

او له دې وړاندې هارون هم هغوی ته ویلی وو، چې ای زما قومه! تاسو د خوسکی په وسیله ازمویل کیږئ او بیشکه چې ستاسو یوازینی رب، رحمان ذات( الله تعالی) دی، نو زما پیروی وکړئ او زما امر ومنئ( ځکه زه د الله تعالی پیغمبر یم).

قَالُوا۟ لَن نَّبْرَحَ عَلَيْهِ عَٰكِفِينَ حَتَّىٰ يَرْجِعَ إِلَيْنَا مُوسَىٰ ﴿٩١﴾

هغوی وویل: مونږ به تر هغه د خوسکی عبادت کوو، چې موسی راته بیرته راوګرځی.

قَالَ يَٰهَٰرُونُ مَا مَنَعَكَ إِذْ رَأَيْتَهُمْ ضَلُّوٓا۟ ﴿٩٢﴾

( موسی له رارسیدو سره سم ورور ته) وویل: ای هارونه! کله چې دې هغوی په ګمراهۍ کې ولیدل، څه شی منع کړې،

أَلَّا تَتَّبِعَنِ ۖ أَفَعَصَيْتَ أَمْرِى ﴿٩٣﴾

چې زما پیروی دې و نه کړه( او د ګمراهانو په مقابل کې دې زما په شان شدید عکس العمل و نه ښود). آیا زما له امره دې سرغړونه وکړه؟

قَالَ يَبْنَؤُمَّ لَا تَأْخُذْ بِلِحْيَتِى وَلَا بِرَأْسِىٓ ۖ إِنِّى خَشِيتُ أَن تَقُولَ فَرَّقْتَ بَيْنَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَلَمْ تَرْقُبْ قَوْلِى ﴿٩٤﴾

(هارون) وویل: ای زما د مور زویه! مه مې له ږیرې نیسه او مه مې د سر( له ویښتانو). ویره مې دا وه چې ته به راته ووایې، زما او بنی اسرائیلو ترمنځ دې د نفاق اور بل کړی( او د هغوی د وحدت ساتلو لپاره دې) زما سپارښتنې نه دی عملی کړی.

قَالَ فَمَا خَطْبُكَ يَٰسَٰمِرِىُّ ﴿٩٥﴾

( موسی) وویل: سامری! ته( د خپل دغه ناوړه عمل لپاره ) څه دلیل لرې؟

قَالَ بَصُرۡتُ بِمَا لَمۡ يَبۡصُرُواْ بِهِۦ فَقَبَضۡتُ قَبۡضَةٗ مِّنۡ أَثَرِ
ٱلرَّسُولِ فَنَبَذۡتُهَا وَكَذَٰلِكَ سَوَّلَتۡ لِي نَفۡسِي ﴿٩٦﴾

**هغه وویل: ما هغه څه ولیدل چې دوی نه لیدل، نو د رسول( جبرئیل د سپرلۍ) د نقش قدم نه مې یو موټی(خاوره) راواخسته( او په طلایی مجسمه کې مې) ورتوی کړه(چې سمدلاسه ترې آوازونه راپورته شول) او نفس مې راته( همدغه کار) ښه او مناسب ښکاره کړ.**

قَالَ فَٱذۡهَبۡ فَإِنَّ لَكَ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ أَن تَقُولَ لَا مِسَاسَۖ وَإِنَّ لَكَ
مَوۡعِدٗا لَّن تُخۡلَفَهُۥۖ وَٱنظُرۡ إِلَىٰٓ إِلَٰهِكَ ٱلَّذِي ظَلۡتَ عَلَيۡهِ عَاكِفٗاۖ
لَّنُحَرِّقَنَّهُۥ ثُمَّ لَنَنسِفَنَّهُۥ فِي ٱلۡيَمِّ نَسۡفًا ﴿٩٧﴾

**موسی وویل: ښه نو ورځه( سزا دې دا ده چې په ټول ژوند کې به چیغې سورې وهې) ماته لاس مه راوړې. او( د آخرت د عذاب لپاره هم) درسره داسې وعده ده چې هیڅ بدلون پکې نه راځی، او ګوره خپل هغه( باطل) خدای ته دې چې ته ورته په سجدو پروت وې، چې سوزوم یې او ایره یې په اوبو لاهو کوم.**

إِنَّمَآ إِلَٰهُكُمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۚ وَسِعَ كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمٗا ﴿٩٨﴾

**ستاسو حقیقی رب یوازې د الله تعالی واحد او لاشریک ذات دی چې له هغه نه غیر، بل خدای نشته او علم یې په ټولو اشیاو او موجوداتو حاوی او مسلط دی.**

كَذَٰلِكَ نَقُصُّ عَلَيۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ مَا قَدۡ سَبَقَۚ وَقَدۡ ءَاتَيۡنَٰكَ مِن لَّدُنَّا
ذِكۡرٗا ﴿٩٩﴾

**(ای پیغمبره) په دې توګه ځینې پخوانۍ پیښې او حالات تاته ( او ستا په وسیله ټولو بشری پرګنو ته د عبرت او پند ورکولو لپاره) اوروو، او د ( مبارک قرآن) ذکر مو هم په ځانګړې توګه په تا لورولی (چې د احکامو نه علاوه پکې دغه له عبرت نه ډکې پیښې بیان شوی دی).**

مَّنۡ أَعۡرَضَ عَنۡهُ فَإِنَّهُۥ يَحۡمِلُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وِزۡرًا ﴿١٠٠﴾

څوک چې له ( مبارک قرآن او الهی احکامو نه د اعتراض په توګه)مخ وګرځوی( او ایمان را نه وړی) د قیامت په ورځ به د ګناه دروند پیټی په اوږو واخلی.

خَٰلِدِينَ فِيهِۖ وَسَآءَ لَهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ حِمۡلٗا ﴿١٠١﴾

دا یو تل پاتې او ناوړه پیټی دی چې د قیامت په ورځ به یې په اوږو بار وی.

يَوۡمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِۚ وَنَحۡشُرُ ٱلۡمُجۡرِمِينَ يَوۡمَئِذٖ زُرۡقٗا ﴿١٠٢﴾

هغه ورځ چې( دویمه) شپیلۍ وغږول شی او مجرمین په داسې حال کې احضار کړی شی چې( له ویرې او اضطراب نه یې) سترګې شنې را وتلی وی.

يَتَخَٰفَتُونَ بَيۡنَهُمۡ إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا عَشۡرٗا ﴿١٠٣﴾

پخپل منځ کې به پټ پټ پسیړی او یو بل ته به وایی چې په دنیا کې به مو له لس ورځو زیات ژوند نه وی کړی.

نَّحۡنُ أَعۡلَمُ بِمَا يَقُولُونَ إِذۡ يَقُولُ أَمۡثَلُهُمۡ طَرِيقَةً إِن لَّبِثۡتُمۡ إِلَّا يَوۡمٗا ﴿١٠٤﴾

مونږ په ټولو خبرو پوهیږو،په دوی کې هغه هوښیار او عاقل تن به( چې د دنیا په زوال او فناء او د آخرت په دوام او بقا پوهیږی) ووایی چې( لس ورځې نه) بلکه ایله به مو یوه ورځ ژوند کړی وی.

وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡجِبَالِ فَقُلۡ يَنسِفُهَا رَبِّي نَسۡفٗا ﴿١٠٥﴾

او ستا نه پوښتنه کوی چې د غرونو حال به څه وی؟ ورته ووایه: زما رب به یې ټوټه ټوټه او خواره واره کړی.

فَيَذَرُهَا قَاعٗا صَفۡصَفٗا ﴿١٠٦﴾

( او ټوله ځمکه به) یو پراخ ډګر شی.

لَّا تَرَىٰ فِيهَا عِوَجٗا وَلَآ أَمۡتٗا ﴿١٠٧﴾

چې نه به پکې کږلیچ ووینی او نه لوړه ژوره.

يَوۡمَئِذٖ يَتَّبِعُونَ ٱلدَّاعِيَ لَا عِوَجَ لَهُۥۖ وَخَشَعَتِ ٱلۡأَصۡوَاتُ لِلرَّحۡمَٰنِ فَلَا
تَسۡمَعُ إِلَّا هَمۡسٗا ﴿١٠٨﴾

(ټول به هغه ورځ) په منظمه توګه د یوه بلونکی( اسرافیل) په غږ پسې زغلی( چې پرله پسې اعلانونه به کوی: په بیړه حاضر شئ د محشر په لوی ډګر کې د الله تعالی حضور ته.) او د رحمان ذات په وړاندې به یو عمومی او هر اړخیز سکوت حکمفرما وی، چې د پښو له کښنار نه غیر به، بل هیڅ آواز نه اوریدل کیږی.

يَوْمَئِذٍ لَّا تَنفَعُ ٱلشَّفَـٰعَةُ إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحْمَـٰنُ وَرَضِىَ لَهُۥ قَوْلًا ﴿١٠٩﴾

په دغه ورځ به سفارشونه هیڅ ګټه نه کوی خو هغه کسان به ترې ګټه پورته کوی چې رحمان (خدای) ورته اجازه ورکړی او خبره یې د الله تعالی خوښه وی( او شفاعت یې د مسلمان په حق کې وی، ځکه د کافر او مشرک په باب د هیچا سفارش د منلو وړ نه دی) .

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلْمًا ﴿١١٠﴾

(الله تعالی د خپلو بندګانو) په راتلونکی( اخروی) سرنوشت او تیرو( دنیوی) اعمالو ډیر ښه خبر دی خو بندګان یې د الله پاک د چارو په باب هیڅ علمی احاطه نه لری.( الله تعالی ښه پوهیږی چې څوک باید د چا سفارش وکړی، او څوک یې ښه مستحق دی).

۞ وَعَنَتِ ٱلْوُجُوهُ لِلْحَىِّ ٱلْقَيُّومِ ۖ وَقَدْ خَابَ مَنْ حَمَلَ ظُلْمًا ﴿١١١﴾

او ټول مخونه به د ( الله تعالی) د تل پاتې قایم ذات په وړاندې تابعدار وی، او بې برخې او نامیده به وی هغه، چې د ظلم او تیری پیټی یې په اوږو پروت وی.

وَمَن يَعْمَلْ مِنَ ٱلصَّـٰلِحَـٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخَافُ ظُلْمًا وَلَا
هَضْمًا ﴿١١٢﴾

او څوک چې نیک عمله او مؤمن دی، نه به ورسره د حق تلفی د ظلم ویره وی او نه به یې په اجر او ثواب کې د کمی.

وَكَذَٰلِكَ أَنزَلْنَـٰهُ قُرْءَانًا عَرَبِيًّا وَصَرَّفْنَا فِيهِ مِنَ ٱلْوَعِيدِ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ
أَوْ يُحْدِثُ لَهُمْ ذِكْرًا ﴿١١٣﴾

او په دې توګه مو دا قرآن په فصیحه عربی ژبه نازل کړی او په هغه کې ډول ډول تهدیدونه او ګواښونه ذکر شوی، ترڅو( یې لومړنی مخاطبان له بې اساسه عقایدو او ګناه او سرغړونو) ځانونه وساتی او یا پکې د پند او نصیحت اخستلو احساس راژوندی شی.

فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلْمَلِكُ ٱلْحَقُّ ۗ وَلَا تَعْجَلْ بِٱلْقُرْءَانِ مِن قَبْلِ أَن يُقْضَىٰٓ
إِلَيْكَ وَحْيُهُۥ ۖ وَقُل رَّبِّ زِدْنِى عِلْمًا ﴿١١٤﴾

نو د ډيرې لوړې مرتبې څښتن دی د الله تعالی ذات، دغه د هستۍ د جهان ربښتینی او حقیقی واکمن او پادشاه، او ( ای پیغمبره!) د قرآن په لوستلو کې بېړه او عجله مه کوه، ترڅو وحې کیدونکی آیتونه پای ته ورسی، او( تل په دعا کې) وایه: ای ربه پوهه او علم مې زیات کړې.

وَلَقَدْ عَهِدْنَآ إِلَىٰٓ ءَادَمَ مِن قَبْلُ فَنَسِىَ وَلَمْ نَجِدْ لَهُۥ عَزْمًا ﴿١١٥﴾

او مونږ لا وړاندې آدم ته سپاربښتنه کړې وه چې( د دغې ونې میوه و نه خورې) خو هغه سپاربښتنه هیره کړه او مونږ په هغه کې ټینګه اراده ونه مونده.

وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِءَادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ
أَبَىٰ ﴿١١٦﴾

او کله چې مونږ پرښتو ته وویل: آدم ته سجده وکړئ نو ټولو سجده وکړه خو یوازې ابلیس و، چې انکار یې وکړ.

فَقُلْنَا يَٰٓـَٔادَمُ إِنَّ هَٰذَا عَدُوٌّ لَّكَ وَلِزَوْجِكَ فَلَا يُخْرِجَنَّكُمَا مِنَ ٱلْجَنَّةِ
فَتَشْقَىٰٓ ﴿١١٧﴾

نو مونږ آدم ته وویل: بې له شکه دغه( ابلیس) ستا او ستا د میرمنې دښمن دی،( پام) چې له جنت نه مو و نه باسی، که نه په سخت غم او کړاو به اخته شې.

إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرَىٰ ﴿١١٨﴾

په دې جنت کې خو به ته، نه وږی شې او نه بربنډ.

وَأَنَّكَ لَا تَظْمَؤُا۟ فِيهَا وَلَا تَضْحَىٰ ﴿١١٩﴾

نه به تږی شې او نه به دې لمر ووهی( د یوه سوکاله او مرفه ژوند ټولې آسانتیاوې به درته برابرې وی، او له هرډول تکلیف نه به مصؤن یاست) .

فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ ٱلشَّيْطَٰنُ قَالَ يَٰٓـَٔادَمُ هَلْ أَدُلُّكَ عَلَىٰ شَجَرَةِ
ٱلْخُلْدِ وَمُلْكٍ لَّا يَبْلَىٰ ﴿١٢٠﴾

**خو شیطان هغه ته وسوسه وروغورزوله او ورته یې وویل: ای آدمه! داسې تلپاتې ونه به دروښایم( چې د میوې په خوراک سره به یې) درته ابدی واکمنی او پاچاهی در په برخه شی.**

فَأَكَلَا مِنْهَا فَبَدَتْ لَهُمَا سَوْءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن
وَرَقِ ٱلْجَنَّةِ ۚ وَعَصَىٰٓ ءَادَمُ رَبَّهُۥ فَغَوَىٰ ﴿١٢١﴾

**نو دواړه( ښځه خاوند د شیطانی وسوسو په لومه کې ونښتل او د ممنوعه ونې میوه یې) وخوړه چې له امله یې دواړه لوڅ لپړ یو بل ته مخامخ ودریدل او بیا په دې هڅه کې شول چې څنګه خپل عورتونه د جنتی ونو په پاڼو وپوښوی. او آدم د خپل رب نافرمانی وکړه او د سهوې مرتکب شو.**

ثُمَّ ٱجْتَبَٰهُ رَبُّهُۥ فَتَابَ عَلَيْهِ وَهَدَىٰ ﴿١٢٢﴾

**خو رب یې بیا هم هغه ته غوره توب او ترجیح ورکړه، د هغه توبه یې قبوله کړه او په سمه لاره یې روان کړ.**

قَالَ ٱهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعًۢا ۖ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۖ فَإِمَّا
يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّى هُدًى فَمَنِ ٱتَّبَعَ هُدَاىَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا
يَشْقَىٰ ﴿١٢٣﴾

**الله تعالی ورته وفرمایل: دواړه ډلې( انسان او شیطان) له جنت نه( ځمکې ته) ښکته شئ( اولاده به مو) پخپل منځی دښمنئ سره اخته وی. زما له لوری به لارښوونې دوررسی، څوک چې زما د لارښوونو پیروی وکړی، نه به بې لارې شی او نه به له کوم رنځ او کړاو سره مخامخ شی.**

وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِى فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةً ضَنكًا وَنَحْشُرُهُۥ يَوْمَ
ٱلْقِيَٰمَةِ أَعْمَىٰ ﴿١٢٤﴾

او څوک چې زما له هدایاتو او احکامو انکار او سرکشي وکړي، ژوند به یې تنګ او له کړاو نه ډک وي او د قیامت په ورځ به ړوند راپورته شي.

قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِيٓ أَعْمَىٰ وَقَدْ كُنتُ بَصِيرًا ﴿١٢٥﴾

وایي به، ای زما ربه ولې دې ړوند راپورته کړم، زه خو( په دنیا کې) لیدونکی وم.

قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتْكَ ءَايَٰتُنَا فَنَسِيتَهَا ۖ وَكَذَٰلِكَ ٱلْيَوْمَ تُنسَىٰ ﴿١٢٦﴾

(الله تعالی) به وفرمایي: لکه څنګه چې زمونږ آیتونه تاته راغلل او هیر دې کړل، نن ته هم هیر( او په عذاب کې) پریښودل شوې.

وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي مَنْ أَسْرَفَ وَلَمْ يُؤْمِنۢ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ ۚ وَلَعَذَابُ ٱلْءَاخِرَةِ أَشَدُّ وَأَبْقَىٰٓ ﴿١٢٧﴾

او په دې توګه مونږ هغه چاته چې( له حق نه) تیری کوي او د خپل رب په آیتونو ایمان نه راوړي دا ډول سزا ورکوو او بیشکه چې د آخرت عذاب تر ټولو سخت او تلپاتې دی.

أَفَلَمْ يَهْدِ لَهُمْ كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ ٱلْقُرُونِ يَمْشُونَ فِي مَسَٰكِنِهِمْ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّأُو۟لِي ٱلنُّهَىٰ ﴿١٢٨﴾

د مکې کافران او مشرکان باید( د شاوخوا لرغونو تاریخي اثارو څخه) عبرت واخلي، مونږ له دوی نه وړاندې څومره امتونه تباه کړي چې اوس یې دوی( په مخروبه کلیو او کندواله شویو) کورونو تیریږي راتیریږي.
بیشکه په دغو( لرغونو تاریخي اثارو) کې د عقل او پوهې د څښتنانو لپاره د پند او عبرت درسونه پراته دي.

وَلَوْلَا كَلِمَةٌ سَبَقَتْ مِن رَّبِّكَ لَكَانَ لِزَامًا وَأَجَلٌ مُّسَمًّى ﴿١٢٩﴾

او( که د عذاب د ځنډ لپاره) ستا د رب سنت او اراده موجود نه وي او د مهلت یوه خاصه موده نه وي ټاکلې شوې، نو په دوی به هم د الله تعالی عذاب بې له ځنډه نازل شوی وي.

فَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ قَبۡلَ طُلُوعِ ٱلشَّمۡسِ وَقَبۡلَ
غُرُوبِهَاۖ وَمِنۡ ءَانَآيِٕ ٱلَّيۡلِ فَسَبِّحۡ وَأَطۡرَافَ ٱلنَّهَارِ لَعَلَّكَ تَرۡضَىٰ ١٣٠

نو (ای پیغمبره!) د مشرکانو د خبرو په مقابل کې صبر وکړه او له لمرخاته او لمر پرېوتو نه وړاندې( یعنې د فجر او عصر په لمانځه کې) د خپل رب ستاینه او تسبیح ووایه، او د شپې( یعنې د مغرب او عشاء په لمانځه) او د ورځې په دواړو اطرافو( ماسپښین) کې هم( د خپل رب) ستاینه( لمونځ) وکړه ترڅو(یې په لوی اجر او دنیوی او اخروی نیکمرغۍ ) خوشحاله شې.

وَلَا تَمُدَّنَّ عَيۡنَيۡكَ إِلَىٰ مَا مَتَّعۡنَا بِهِۦٓ أَزۡوَٰجٗا مِّنۡهُمۡ زَهۡرَةَ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا
لِنَفۡتِنَهُمۡ فِيهِۚ وَرِزۡقُ رَبِّكَ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰ ١٣١

او هغه چاته د طمعې سترګې مه نیسه چې مونږ ورته هوسا او سوکاله ژوند ورکړی، څه چې مونږ هغوی ته ورکړې( بې ثمره) غوټۍ او دنیوی ډول ډال دی، ترڅو پرې هغوی وازمایو، خو په حقیقت کې ستا د رب روزی تر ټولو غوره او تلپاتې ده.

وَأۡمُرۡ أَهۡلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصۡطَبِرۡ عَلَيۡهَاۖ لَا نَسۡـَٔلُكَ رِزۡقٗاۖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُكَۗ
وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلتَّقۡوَىٰ ١٣٢

او خپله کورنۍ د لمانځه قیام ته وهڅوه او پخپله هم وربانـدې ټینګ او مصمم ودرېږه. مونږ له تانه روزی نه غواړو بلکه تاته روزی درکوو او نیک عاقبت او انجام د پرهیزګارانو په برخه دی.

وَقَالُواْ لَوۡلَا يَأۡتِينَا بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّهِۦٓۚ أَوَلَمۡ تَأۡتِهِم بَيِّنَةُ مَا فِي ٱلصُّحُفِ
ٱلۡأُولَىٰ ١٣٣

**او مشرکانو وویل: ولې پیغمبر د خپل رب له لوری مونږ ته معجزه نه راوړی. آیا دا قرآن چې د آسمانی کتابونو متمم او تصدیق کوونکی دی، هغوی ته نه دی راغلی؟**

وَلَوۡ أَنَّآ أَهۡلَكۡنَٰهُم بِعَذَابٖ مِّن قَبۡلِهِۦ لَقَالُواْ رَبَّنَا لَوۡلَآ أَرۡسَلۡتَ
إِلَيۡنَا رَسُولٗا فَنَتَّبِعَ ءَايَٰتِكَ مِن قَبۡلِ أَن نَّذِلَّ وَنَخۡزَىٰ ١٣٤

**او که هغوی مو د قرآن د نزول نه وړاندې هلاک کړی وی، نو به یې ویلی چې ای زمونږ ربه! ولې دې مونږ ته کوم پیغمبر را و نه لیږه، چې له دې ذلت او رسوایۍ نه وړاندې مو ستا د آیتونو متابعت او پیروی کړې وی.**

قُلۡ كُلّٞ مُّتَرَبِّصٞ فَتَرَبَّصُواْۖ فَسَتَعۡلَمُونَ مَنۡ أَصۡحَٰبُ ٱلصِّرَٰطِ
ٱلسَّوِيِّ وَمَنِ ٱهۡتَدَىٰ ١٣٥

**ووایه، مونږ به منتظر شو او تاسو هم سترګې په لار اوسئ، زر به په دې حقیقت پوه شئ چې څوک په حقه لار روان دی او هدایت د چا په برخه شوی دی( زمونږ که ستاسو؟).**

**« تمت سورة طه بفضل الله والحمد لله رب العالمين»**
**================**